# د ناحوم نبي کتاب

## د کتاب پېژندنه

ناحوم يو نبي ؤ چې د اسراييلو د قوم څخه ؤ او دا پيغام يې شاوخوا ۶۵۰ کاله مخکې د میلاد نه وليکه. په دې کتاب کې ناحوم د آشور د امپراتورۍ د سقوط په هکله پېشګويي کوي. هغه دا پېشګويي د آشور پايتخت د نينوا ښار ته د يونس نبي د سفر څخه يوه پېړۍ وروسته اعلانوي. د ناحوم په زمانه کې د نينوا خلک لکه د يونس نبي د زمانې د خلکو په شان نور د توبې ويستلو په حالت کې نه وو، بلکې يوځل بيا ډېر ظالمان او فاسد شوي وو. د نينوا خلکو د خپلې امپراطورۍ په قدرت باندې وياړ کاوه او داسې فکر يې کاوه چې هغه هېڅ زوال نه لري. خو د ميلاد نه مخکې يعنې د ناحوم د پېشګويۍ څخه څو کاله وروسته د آشور لويې امپراطورۍ د بابل له خوا ماتې وخوړله او د هغه پايتخت يعنې د نينوا مغرور ښار د خاورو سره خاورې شو.

د ناحوم د کتاب اصلي موضوع د څښتن له خوا د نينوا د ښار په خلکو باندې د سزا اعلان دی. همدارنګه دا کتاب څرګندوي چې قادر مطلق خدای په ټولې نړۍ باندې واک او اختيار لري. نو له همدې امله مونږ کولای شو چې په څښتن باندې باور وکړو او ايمان ولرو چې هرڅه چې هغه وايي، نو سرته يې رسوي.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

موضوعګانو لست:

د نینوا په ښار باندې د ښښتن قهر: لومړی فصل

د نینوا سقوط: ۲-۳ فصلونه

۱ ① ښښتن دا پیغام چې د نینوا په هکله دی، په رویا کې ناحوم ته چې د القوش د کلي څخه ؤ، ورکړ.

## په نینوا باندې د ښښتن قهر

② غیرتي دی ښښتن او دی

بدل اخیستونکی خدای

ښښتن اخلي بدل او دی غضبناک

ښښتن بدل اخلي د خپلو رقیبانو څخه

او تل وي په قهر خپلو دښمنانو ته

③ نه په قهریږي ښښتن زر

خو قدرتمند دی هغه

هیڅکله نه پریږدي بې له سزا ګناهکار

چېرته چې ګرځي ښښتن

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

نو شي راپورته تېز باد او توفانونه

دي ورېځې د هغه د پښو خاورې

۴ کوي حکم بحيرې ته او وچوي هغه

وچوي هغه ټول سيندونه

وچوي ځمکې د باشان د سيمې

او ونې د کرمل د غره

او مړاوي کوي هغه ګلان د لبنان

۵ غرونه لړزيږي د ښښتن حضور کې

غونډۍ شي ورانې او هوارې

د هغه په مخکې ځمکه شي په لړزان

په رېږدېدو شي جهان او په کې ټول خلک

۶ څوک ودرېدلی شي د هغه د قهر په وړاندې؟

څوک شي زغملی سخت قهر د هغه؟

نازلېږي د هغه غضب لکه د اور په شان

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د هغه په مخکې تورتې تورتې شي ګټان

٧ نېک دی ښبنتن

د تکلیف په وخت کې قوي کلا ده هغه

کوي پام په هغو خلکو باندې

چې راوړي پناه هغه ته

٨ خو تباه کوي خپل رقیبان هغه

د سخت سېلاب په شان

تعقیبوي خپل دښمنان تیاره کې

٩ څه دسیسه جوړوئ تاسو د ښبنتن په وړاندې؟

هغه به تاسو کړي برباد په پوره توګه

مخالفت کولای نه شي بیا د هغه سره څوک

١٠ لکه تاو شویو اغزیو په شان

وي به نشه هغوی خپلو شرابو باندې

هغوی به وسوځي د وچو بوسو په شان

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

١١ ای نینوا، ستا نه به یو څوک پیدا شي چې د څښتن په وړاندې
به دسیسې جوړوي او بېځایه مشورې به ورکوي.

١٢ څښتن خپل قوم ته داسې وايي: «که څه هم آشوریان قوي او
ډېر زیات دي، خو هغوی به له منځه لاړ شي او ورک به شي. که څه
هم ما تاسو وکړولئ، خو بیا به داسې نه کوم. ١٣ اوس به زه ستاسو
د غاړو نه د آشوریانو جغ لرې کړم او ستاسو زولنې به ماتې کړم.

١۴ څښتن د آشوریانو په هکله داسې حکم کوي: «ای نینوا! ته به
اولادونه ونه لرې چې ستا نوم ورباندې یاد شي. زه به هغه د لرګي او
فلزي بتان له منځه یوسم چې د هغوی د خدایانو په عبادتځایونو کې
دي. زه د آشوریانو دپاره قبرونه تیاروم، ځکه هغوی د دې لایق نه
دي چې ژوندي اوسي!»

١۵ ګورئ، په غرونو باندې یو پیغام رسوونکی د یو زیري سره
راروان دی! هغه راروان دی چې د سولې او سلامتۍ اعلان وکړي! ای
د یهودا خلکو، خپل جشنونه ولمانځئ او خپلې وعده شوې نذرانې
وړاندې کړئ. هغه بدکاره آشوریان به نور ستاسو په وطن باندې
حمله نه کوي. هغوی به بیخي تباه شي!

## دښمنان د نینوا په ښار باندې حمله کوي

٢ ١ ای نینوا، ته د حملې لاندې یې

وساته خپلې جنګي کلاوې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وخاره لارې، جنګ ته تيار اوسه

کړه راټول خپل قوتونه

٢ ښبنتن به د اسراييلو هغه شان او شوکت چې دښمنانو يې له
منځه وړی ؤ، لکه د يهودا د شان او شوکت په شان بېرته ورته راولي.

٣ راروان کړي د دښمن لښکرو سره سپرونه

د هغه عسکرو دی اغوستی سور لباس

ځليږي په ګاډيو لګېدلی فلز

په هغه ورځ چې کړي تيار هغوی

نو عسکر به کړي راپورته

خپلې نېزې او خوځوي به هغه

٤ د توفان په شان رواني دي

جنګي ګاډی کوځو کې تېزې تېزې

ځي راځي په څلور لارو کې

هغوی پړقيږي څراغونو په شان

او تېزې رواني دي لکه برېښنا په شان

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۵ راټولیږي عسکري منصبداران

څنګه چې ځي هغوی په لاره نو ښوییږي هغوی

په چټکۍ سره روان دي هغوی د دېوالونو خواته

چې کړي جوړ د محاصرې برج

۶ دي خلاص شوي د اوبو بندونه

او په رالوېدو ده ماڼۍ

۷ ملکه یې لوڅه شوې او وړل شوې هغه

کوي وير د هغې وينځې

کړي زګېروي لکه کوترو په شان

او له خفګانه وهي خپلې سينې

۸ ده نينوا لکه د ډنډ په شان

چې اوبه وي ترې روانې

وهي چيغې منصبداران:

ودرېږئ! ودرېږئ!

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خو شاته نه ګوري هېڅوک

٩ د دښمن عسکران چیغې وهي

چې لوټ کړئ سپین زر، لوټ کړئ سره زر

خزانې يې نه خلاصیږي د هر ډول قیمتي شیانو

١٠ نینوا دی وران، شاړ او ویجاړ پروت دی

کمزوري شوي زړونه او ریږي يې زنګنونه

ټول قوت يې تللی او رنګ يې الوتی له مخونو څخه

١١ اوس دی چېرته نینوا هغه غار د زمرو

هغه ځای چې ورکولو به هغوی خپلو بچو ته خواړه

هغه ځای چې به ورتلل ورته نران او ښځینه زمریان

او په کې خوندي وو د زمرو بچیان؟

١٢ زمري وکړ پوره ښکار خپلو بچو ته

ټوټې ټوټې کوي هغه خپلې زمرۍ دپاره

او ډکوي خپل غار د غوښو له ټوټو نه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۳ مطلق قادر څښتن داسې وايي: «زه ستا په خلاف يم! زه به ستا
جنګي ګاډۍ وسوځوم. ستا عسکر به په جنګ کې مړه شي او کوم
شيان چې تا د نورو خلکو نه لوټ کړي دي، هغه به درڅخه بېرته
واخلم. ستا د استازو غوښتنې به نور نه اورېدل کيږي.»

## افسوس د نينوا په حال

# ۳

۱ افسوس په حال ستا ای خونړی ښاره

چې يې ډک له دروغو او لوټ او تالان نه

او هېڅ وخت بې قتلونو نه يې

۲ غوږ ونيسئ:

د قمچينې کړپهار ته، د ارابو شورماشور ته

د اسونو تېزو منډو، د ګاډيو درزهار ته

۳ اس سواران کوي حملې

تورې پړقيږي او نېزې ځليږي

دي جوړې شوې ډېرې د مړو

دي بې‌شمېره مړي

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

عسکر ښوییږي په هغو باندې

۴ ورکول کیږي سزا فاحشې نینوا ته

هغې جذابې او وژونکې جادوګرې ته

هغې وکړله جادو په قومونو باندې

او غلامان یې کړل

۵ مطلق قادر څښتن وایي:

نینوا زه یمه ستا په خلاف

ستا نه به وباسم کالي

زه به ښکاره کړمه قومونو ته

ستا لوڅوالی

او پاچاهیو ته به وشرموم تا

۶ تا به پټه کړمه په چټلی کې

زه به ګورمه په سپکه سترګه تاته

او تا نه به جوړه تماشه کړمه زه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

٧ هرڅوک چې ووینې تا

نو تا نه به مخ اړوي

هغوی به وايي چې ورانه شوې نینوا

وبه کړي څوک ویر د هغې دپاره؟

څوک به ورکړي تسلي هغې ته؟

## د نینوا تباهي

٨ ای نینوا، ایا ته د مصر د پایتخت تیبس نه ښه یې؟ هغې هم یو
سیند درلود چې د هغې ساتنه وکړي یعني د نیل سیند د هغې دفاع
کوله. ٩ هغې په ایتوپیا او مصر باندې حکومت کاوه. د هغې د
قدرت کوم حد نه ؤ. فوط او لیبیا د هغې ملګري وو. ١٠ خو بیاهم
د تیبس خلک د اسیرانو په توګه په جلاوطنۍ بوتلل شول. د هرې
کوڅې په سر کې د هغوی ماشومان وغورځول شول او ووژل شول. د
هغوی مشران په زنځیرونو کې بوتلل شول او د دښمن عسکرو په
خپل منځ کې د هغو د وېشلو دپاره پچه واچوله.

١١ ای نینوا، ته به هم لکه د یو شرابي په شان نشه شې! ته به
کوښښ کوې چې پټه شې او د دښمن څخه به پناه غواړې. ١٢ ستا
ټولې کلاګانې به د پخو انځرو په شان وي. کله چې څوک دا ونې
وخوځوي، نو مېوه به یې د هغه خولې ته ورولوېږي! ١٣ ستا
عسکر د ښځو په شان دي او ستا د وطن دروازې ستا د دښمنانو

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

پرمخ خلاصې دي. اور به ستا د دروازو اړمونه وسوځوي. ۱۴ د
محاصرې دپاره تیاره شه او اوبه ذخیره کړه! خپلې جنګي کلاګانې
قوي کړه! د خښتو د جوړولو دپاره خټه جوړه کړه او قالبونه تیار
کړه! ۱۵ ته چې هرڅه کوې، خو ته به په اور کې وسوځې او یا به
په جنګ کې مړه شې. ته به داسې له منځه لاړه شې لکه څنګه چې
ملخان فصلونه خوري.

تاسو د ملخانو په شان زیات شوي يئ! ۱۶ ستا د سوداګرانو شمېر
د اسمان د ستورو نه زیات دی! خو اوس هغوی به داسې لاړ شي،
لکه ملخان چې خپل وزرونه خپاره کړي او والوزي. ۱۷ ستا
ساتونکي او مامورين د هغو ملخانو د سيل په شان دي چې په يخه
ورځ په دېوالونو باندې ناست وي. خو کله چې لمر راښکاره شي، نو
هغوی الوزي او هېڅوک نه پوهېږي چې هغوی چېرته لاړل!

۱۸ ای د آشور امپراتوره، ستا حاکمان مړه شوي او ستا درانه
خلک په ابدي خوب باندې ويده شوي دي! ستا خلک په غرونو
باندې خواره واره شوي دي او هېڅوک نشته چې هغوی بېرته خپلو
کورونو ته راولي. ۱۹ ستا د زخمونو علاج نشته او ستا پرهارونه به
جوړ نه شي. هرڅوک چې ستا د بربادۍ نه خبرېږي، نو د خوشحالۍ
نه خپل لاسونه پړقوي. ايا داسې څوک شته چې ستا د ظلم نه
خلاص شوی وي؟

تاسو پوښتنې لرئ؟ +1 807.700.9066
afghanbibles.org © افغانستان ۲۰۲۳
Copyrighted material not for reprint/publishing purposes.